
# له امریکا او روسیې سره د هند اړیکې او پر افغانستان یې اغېزې

**(۱۹۹۱ـ۲۰۱٦ز.کال)**



څېړنوال ضیاالحق ضیا

له امریکا او روسیې سره د هند اړیکې او پر افغانستان یې اغېزې (۱۹۹۱ـ۲۰۱٦ز.کال)

څېړنوال ضیاالحق ضیا

# India's Relations with USA and Russia: Implications for Afghanistan (1991-2016)

Assoc. Prof. Ziaulhaq Zia

2023

ISBN 978-9936-661-97-4

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د بشري علومو معاونیت

د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز

د هند او پاکستان انسټیټوټ

# له امریکا او روسیې سره د هند اړیکې او پر افغانستان یې اغیزې

## (۱۹۹۱- ۲۰۱٦ز.کال)

څېړنوال ضیاالحق ضیا

## د کتاب ځانګړنې:

**د کتاب نوم:** له امریکا او روسيې سره د هند اړیکې او پر افغانستان يې اغېزې(۱۹۹۱-۲۰۱٦ز.کال)

**لیکوال:** څېړنوال ضیا الحق ضیا

**مهتمم:** څېړندوی عمران زکریا

**د لیکلو کال:** ۱۳۹۹ ل. / ۲۰۲۰ م.

**د چاپ کال:** ۱٤۰۲ل / ۱۴۴۵ هـ ق

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د چاپ ځای:** بهیر مطبعه

ISBN : ٤-٩٧-٦٦١-٩٩٣٦-٩٧٨

**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ

**سرلیک** **مخګڼه**


**د لارښود استاد نظر ........................................................ أ**
**تقریظ ........................................................ ج**
**تاییدي تقریظ ........................................................ ه**
**تقریظ ........................................................ ز**
**سریزه ........................................................ ۱**
**لومړی څپرکی ........................................................ ۷**
**د موضوع شالید ........................................................ ۷**
**لومړی: له ۱۹۹۱ز.کال څخه مخکې د هند او امریکا اړیکو ته لنډه کتنه ............ ۷**
الف: د هند له خپلواکۍ مخکې د هند او امریکا اړیکو ته لنډه کتنه ............ ۷
ب: د هند له خپلواکۍ وروسته د هند او امریکا اړیکو ته لنډه کتنه ............ ۱۶
بحث او شننه ........................................................ ۳۲
**دوهم: له ۱۹۹۱ز.کال څخه مخکې د نوي ډیلي او مسکو اړیکو ته لنډه کتنه ...... ۳۷**
الف: د هند له خپلواکۍ وروسته د نوي ډیلي او مسکو اړیکو ته لنډه کتنه ............ ۳۷
ب: د سولې، دوستۍ او همکاریو له تړون وروسته د هند او... ............ ۴۲
بحث او شننه ........................................................ ۴۵
**دریيم: د ځینو مهمو مأخذونو لنډه پېژندنه ............ ۴۷**
**دوهم څپرکی ........................................................ ۶۳**
**له سړې جګړې وروسته د هند او امریکا اړیکې(۱۹۹۱ـ ۲۰۰۱ز.کال) ............ ۶۳**
**لومړی ـ له سړې جګړې وروسته د هند او امریکا د اړیکو د پراخیدو زمنې .......... ۶٤**
الف ـ د آسیا ـ پاسفیک سیمې د ارزښت ډېرېدل او د امریکا لپاره د هند لومړیتوب ...... ۶٤
ب ـ له هند سره د سټراټیژیک مشارکت لپاره د امریکا لېوالتیا ............ ۶٤
ج ـ د خلیج په جګړه کې له امریکا سره د هند همکاري............ ۶۹
د ـ نوی بین المللي نظم او د هند پر لوري د امریکا تګ ............ ۶۹
هـ ـ د روسیې کمزوري او له امریکا سره د هند نږدې کېدل ............ ۷۲

و ـ په هند کې د اقتصادي اصلاحاتو پیل........................................ ۷۳
ز ـ د اړیکو په پراختیا کې د چین او اسرائیلو اړخ او د پاکستان څنګ ته کېدل .......... ۷۵
ک ـ د یوه ډاډمن متحد په لټه، دوه اړخیزه اړتیا......................................... ۷۷
ل : د اړیکو د پراختیا لپاره د دوه اړخیز اهمیت ډېرېدل ........................... ۷۸
م ـ د اړیکو په پراختیا کې د شخصي مشرتوب رول ................................ ۷۹
**دوهم: د هند او امریکا سیاسي او نظامي اړیکې.................................. ۸۱**
الف: سیاسي او ډیپلوماتیکې اړیکې .................................................. ۸۱
ب: د هند او امریکا نظامي او امنیتي اړیکې .......................................... ۹۷
**درېیم: د هند او امریکا ترمنځ اقتصادي او سوداګریزې اړیکې.................. ۱۰۵**
الف: د هند اقتصادي اصلاحات او د پراخو اقتصادي اړیکو پیل .................... ۱۰۶
ب: دوه اړخیزه سوداګري ................................................................ ۱۱٤
ج: دوه اړخیزه پانګونه................................................................... ۱۱۷
د: د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو پر وړاندې خنډونه ............................. ۱۲۳
**څلورم: له اټومي ازموینو وروسته د هند او امریکا د اړیکو خړپړتیا ............. ۱۲۷**
الف: د هند له هستوي آزمایښتونو مخکې هستوي اړیکې او د نظرونو توپیرونه ......... ۱۲۷
ب: د هند هستوي آزمایښتونه او د امریکا غبرګون .................................. ۱۳۱
ج: د بندیزونو نرمېدل او د هستوي اړیکو پراختیا ................................... ۱۳۳
**درېیم څپرکی ............................................................................... ۱۳۷**
**له سړې جګړې وروسته د هند او روسیې اړیکې (۱۹۹۱ـ ۲۰۰۱ز.کال) .......... ۱۳۷**
**لومړی ـ د هند او روسیې پر اړیکو د پخواني شوروي اتحاد د سیاست اغېزې .... ۱۳۷**
**دوهم ـ د هند او روسیې سیاسي او نظامي اړیکې .................................. ۱۳۹**
الف ـ سیاسي اړیکې....................................................................... ۱۳۹
بحث او شننه ............................................................................... ۱۵۵
ب ـ د هند او روسیې نظامي اړیکې .................................................... ۱۵۷
**درېیم: د هند او روسیې اقتصادي او سوداګریزې اړیکې........................... ۱٦۵**
الف ـ د اقتصادي اړیکو پیل، پراختیا او بیا خړپړتیا ................................. ۱٦۵
ب ـ د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو نوی سیستم ..................................... ۱٦۷
بحث او شننه ............................................................................... ۱۷۲

**خلورم څپرکی ........................................................................ ۱۷۵**
**د سپټمبر له یوولسمې پېښې وروسته د هند او ... ...................................... ۱۷۵**
**لومړی ـ د سپټمبر له یوولسمې پېښې وروسته په سیمه کې د امریکا نوی سټراټیژي ..۱۷٦**
الف ـ د سپټمبر یوولسمه پېښه او د اړیکو نوې بڼې........................................ ۱۸۲
ب ـ د ترهګرۍ په نوم له اعلان شوې جګړې څخه د هند او پاکستان ملاتړ او... ....... ۱۸٤
ج ـ پاکستان یو ځل بیا د لومړۍ کرښې دولت په توګه ...................................... ۱۸۵
د ـ هند: اوږدمهاله سټراټیژیکه ملګرتیا .................................................... ۱۸۸
هـ ـ واک ته د بارک اوباما رسېدل؛ د بیا انډول سټراټیژي ................................ ۱۸۹
بحث او شننه ................................................................................. ۱۹۰
دوهم: د هند او امریکا سیاسي او نظامي اړیکې............................................ ۱۹٤
الف ـ سیاسي او ډیپلوماتیکې اړیکې......................................................... ۱۹٤
بحث او شننه ................................................................................. ۲۲۷
ب: د هند او امریکا نظامي او امنیتي اړیکې ............................................... ۲۳۱
**درېیم: د هند او امریکا هستوي اړیکې او همکارۍ ...................................... ۲٦٤**
الف ـ د هند او امریکا ترمنځ د پراخو ملکي هستوي همکاریو لپاره د زمینو برابرېدل ...۲٦٤
ب ـ د ملکي هستوي همکاریو د معاملې پیل ................................................ ۲٦۸
ج ـ د مراحلو له تېرولو وروسته د ملکي هستوي همکاریو بشپړه شوې هوکړه ............ ۲۷٦
د ـ د ملکي هستوي همکاریو پر معاملې نېوکې............................................. ۲۷۹
هـ ـ د دواړو هېوادونو لپاره د ملکي هستوي همکاریو د معاملې ګټې او ... ............. ۲۸۳
و ـ د ملکي هستوي همکاریو د معاملې له بشپړتیا وروسته د دواړو هېوادونو... .......... ۲۸۹
**څلورم ـ د هند او امریکا اقتصادي او سوداګریزې اړیکې ............................... ۲۹۲**
الف ـ د هند او امریکا د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو پراختیا.............................. ۲۹۲
ب ـ د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو پر وړاندې خنډونه ..................................... ۳۱٤
**پنځم څپرکی ........................................................................ ۳۱۹**
**د سپټمبر یوولسمې پېښې وروسته د هند او روسیې اړیکې (۲۰۰۱ـ۲۰۱٦ز.کال)........۳۱۹**
**........................................................................................ ۳۱۹**
**لومړی ـ له روسیې سره د هند سیاسي او نظامي اړیکې ............................... ۳۱۹**
الف ـ په سیمه کې د امریکا نظامي شتون او د هند او روسیې پر اړیکو یې اغېزې ...... ۳۱۹

ب ـ د هند او روسیې سیاسي اړیکې ........................................................ ۳۲۲
ج ـ د هند او روسیې نظامي اړیکې ....................................................... ۳۵۹
بحث او شننه ............................................................................................ ۳۸۷
**دوهم ـ له روسیې سره د هند اقتصادي او سوداګریزې اړیکې ...................... ۳۹۰**
الف ـ واک ته د ولادیمیرپوتین په رسېدلو سره د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو پراختیا . ۳۹۰
ب ـ واک ته د منموهن سنګ رسېدل؛ د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو نوي اړخونه ..... ۳۹۷
ج ـ د یوویشتمې پېړۍ د دوهمې لسیزې پیل او ورو سوداګریز پرمختګونه ............. ۴۰۵
د ـ په ملي کرنسیو سوداګري.......................................................................... ۴۱۱
هـ ـ دوه اړخیزه پانګونه .................................................................................. ۴۱۲
و ـ د سوداګریزو او اقتصادي اړیکو پر وړاندې پرتې ستونزې ............................. ۴۱۸
ز ـ د دوه اړخیزې سوداګرۍ د پراخېدو هیلې ....................................................... ۴۲۲
**څلورم ـ د انرژي په برخه کې د هند او روسیې اړیکې او همکارۍ ................... ۴۳۰**
الف: د انرژۍ په برخه کې د اړیکو بیا راژوندي کول.............................................. ۴۳۱
ب: د روسیې د انرژۍ په سکټور کې د هند پانګونې ............................................. ۴۳۴
ج: د انرژۍ د لېږد لپاره د نللیکو پروژې .............................................................. ۴۳۶
**پنځم ـ د هند او روسیې ترمنځ هستوي اړیکې او همکارۍ............................... ۴۳۸**
له هستوي ګوښه توبه د هند راوتل ..................................................................... ۴۳۹
**شپږم ـ د هند او روسیې ساینسي او ټېکنالوژیکي همکاریو ته لنډه کتنه ........ ۴۴۵**
**شپږم څپرکی...................................................................................... ۴۵۳**
**پر افغانستان له امریکا او روسیې سره د هند د اړیکو اغېزې(۱۹۹۱ـ۲۰۱۶ز.کال) ........۴۵۳**
لومړی ـ پر افغانستان د هند او امریکا د اړیکو اغېزې ........................................... ۴۵۳
الف ـ د افغانستان په اړه د هند بهرنۍ پالیسۍ ته لنډه کتنه.................................. ۴۵۵
ب ـ د افغانستان په اړه د امریکا بهرنۍ پالیسۍ ته لنډه کتنه ................................ ۴۶۰
ج ـ د سپټمبر یوولسمې پېښې مخکې پر افغانستان د هند او امریکا د اړیکو اغېزې .... ۴۶۵
**د ـ په افغانستان کې د امریکا نظامي شتون، سیمه ییز غبرګونونه او اغېزې ...... ۴۶۷**
۱ـ د امریکا د نظامي شتون سیمه ییزې اغېزې ..................................................... ۴۶۸
۲ـ د امریکا د نظامي شتون په اړه سیمه ییز غبرګونونه ........................................ ۴۷۳
هـ : د سپټمبر یوولسمې پېښې وروسته پر افغانستان د هند او امریکا د اړیکو اغېزې... ۴۷۵

و ـ د افغانستان په اړه، د دواړو هېوادونو پر پالیسیو د پاکستان اغېزې ..................٤٧٦
ز ـ له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونه وتل: اندېښنې او فرصتونه..................٤٨١
بحث او شننه ..................................................................................٤٨٢
ز ـ د راتلونکو پالیسیو سپارښتنې ...........................................................٤٨٥
**دوهم ـ پر افغانستان د هند او روسیې د اړیکو اغېزې ......................٤٨٧**
الف: د افغانستان په اړه د روسیې بهرنی سیاست ...........................................٤٨٨
ب: له سړې جګړې وروسته پر افغانستان د هند او روسیې د اړیکو اغېزې ...............٤٩٠
ج: د سپټمبر یوولسمې پېښې وروسته پر افغانستان د هند او روسیې د اړیکو اغېزې...٤٩٣
**پایله ..........................................................................٤٩٧**
**وړاندیزونه..................................................................٥٠٣**
**مأخذونه.....................................................................٥٠٧**

## د لارښود استاد نظر

ښاغلي ضیاالحق ضیا خپله علمي ـ څېړنیزه رساله (له امریکا او روسیې سره د هند اړیکې او پر افغانستان یې اغېزې ۱۹۹۱ـ۲۰۱٦ز.کال) تر سرلیک لاندې په شپږو څپرکو کې زما د اشراف لاندې لیکلې ده، نوموړي وخت پر وخت زما لارښوونې او مشورې منلې او عملي کړې دي او له ګڼو معتبرو سرچینو څخه یې ګټه پورته کړې ده.

دا رساله په سریزې سره پیل کېږي، لومړی څپرکی یې د موضوع شالید ته ځانګړی شوی، په دې څپرکي کې لیکونکي له ۱۹۹۱ز.کال مخکې له امریکا او روسیې سره د هند پر اړیکو لنډ بحث کړی او د څپرکي په پای کې یې یو شمېر هغه مهم مأخذونه چې نوموړي د دې رسالې په لیکلو کې ترې ګټه پورته کړې معرفي کړي دي. دوهم او درېیم څپرکي یې په جلاجلا توګه له ۱۹۹۱ز.کال څخه تر ۲۰۰۱ز.کال پورې له امریکا او روسیې سره د هند اړیکې تر بحث او شننې لاندې نیسي او په همدې څپرکو کې یې له سړې جګړې وروسته په نړیوالو سیاستونو کې د بدلونونو په راتلو سره له دواړو هېوادونو سره د هند د اړیکو پرمختیاوې تر غور او څېړنې لاندې نیولې دي.

څلورم او پنځم څپرکي یې له ۲۰۰۱نه تر ۲۰۱٦ز.کال پورې په جلاجلا توګه له امریکا او روسیې سره د هند د اړیکو بېلابېل اړخونه تر بحث او څېړنې لاندې نیسي، په دې څپرکو کې لیکونکي له امریکا او روسیې سره د هند د اړیکو ګڼ اړخونه راڅېړلي او تحلیل کړي دي.

د رسالې په وروستي څپرکي کې ښاغلي ضیا پر افغانستان له امریکا او روسیې سره د هند د اړیکو اغېزې څېړلې دي، دا چې یادو اړیکو په نوییمه لسیزه کې پر افغانستان څه ډول اغېزې لرلې او د سپټمبر د یوولسمې پېښې وروسته دا اغېزې څه ډول وې، هر اړخیزې څېړنې ترسره کړې دي؛ په پای کې دا رساله د پایلې، وړاندیزونو او مأخذونو په راوړلو سره پای ته رسېږي.

د لارښود استاد په توګه مې رساله د اخر ځل لپاره یو ځل بیا د پیله تر پای پورې په دقت سره ولوستله، د عناوینو د موضوعاتو تسلسل، ترتیب او څېړنه په علمي معیارونو برابره ده، د موضوعاتو ارتباط ته پوره پاملرنه شوې، په لیکنه کې د پښتو لیک دود په

پـوره دقـت مراعـت شـوی، د وخـت او زمـان د شرایطـو سره جوخـت د موضـوع انتخـاب نوموړې رسالې ته لا بډاینه ور په برخه کړې ده.

نو لهذا د ښاغلي ضیاالحق ضیا دا علمي ـ څېړنیزه رساله د څېړنوالۍ علمي رتبـې ته د ترفیع لپاره زما د تائیـد وړ ده، د نـورو شرایطـو پـه پـوره کولـو سره یـې د دفـاع لپـاره سپارښتنه کوم.

په اخیر کې د لایزال رب څخه ورته په ټولو شرعي امورو کې بریا غواړم.

په درنښت

پوهنوال منګل شیرزاد

د ننګرهار پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو استاد

# تقریظ

به اساس مکتوب ٦١٦ مؤرخ ۹۹/۷/۲ ریاست مرکز علـوم اجتماعـي از اثـر مکتـوب ۴۹۴ مؤرخ ۹۹/٦/۳۰ ریاست دفتر مقام اکادمی علوم افغانستان، اثـر علمـی ـ تحقیقـی محقـق ضـیاالحق ضـیا را تحـت عنـوان (لـه امریکـا او روسـیې سره د هنـد اړیکـې او پـر افغانستان يې اغېزې ١٩٩١ـ٢٠١٦) که جهت ارائیـه تقـریظ بـه مـن محـول شـده بـود، مطالعه نمودم.

این اثر علمي شامل یک مقدمه، شش فصل، نتیجه گیری، پیشنهادات و فهرسـت مأخذ می باشـد. محقـق قبـل از مقدمـه، موضـوع را بطـور دقیـق بیـان، سـوال اصـلی و سوالات فرعی رامشخص، فرضیه این روابط و تاثیرات آن را بالای افغانستان در محوریت حوادث یازدهم سپتمبر ۲۰۰۱، مطرح نموده است.

در مقدمه بحیث معرفی اثر با اشاره به پس منظر موضوع، فصول شش گانـه آن بـه طور مختصر به معرفی گرفته شده است. نخستین فصل ایـن اثـر بـه مـروری بـه گذشـته موضوع اختصاص یافته است. در این فصل بر روابط هند با امریکا قبـل از آزادی هنـد و بعد از آزادی هند به صورت مفصل و مشرح نظراندازی گردیده و در قسـمت اخیـر فصـل از میان ۱۵۲ منبع، ۲۸ منبع عمده آن بطور مختصر ـ معرفی گردیده است.

در فصل دوم، روابط هند با امریکا بعد از جنگ سرد بین سـالهای ۱۹۹۱ــ ۲۰۰۱ مورد بررسی قرار گرفته است. در این فصل روی زمینه ها، علل و عوامل و اهمیت توسعه روابط میان هند و امریکا در عرصه های سیاسی، نظامی، اقتصـادی بحـث گردیـده و در فصل سوم که به روابط هند با روسیه بعد از جنگ سرد طـی سـال هـای ۱۹۹۱ــ۲۰۰۱ اختصاص یافته است، این روابط هم چنین در عرصه های سیاسی، نظامی، اقتصادی و تجارتی تحلیل گردیده و علاوتاً تأثیرات سیاست اتحاد شوروی سـابق بـالای ایـن روابـط برجسته ساخته شده است.

در فصل چهارم، روابط هند با امریکا بعد از حـوادث ۱۱ سـپتمبر بـین سـال هـای ۲۰۰۱ـ٢٠١٦ به بررسی گرفتـه شـده اسـت. در ایـن فصـل روی موضـوعات اسـتراتیژی جدید امریکا در منطقـه بعـد از ۱۱ سـپتمبر، روابـط سیاسـی و نظـامی، همکـاری هـای

هستوی، اقتصای و تجارتی و انکشافات جدید در روابط هر دو کشور بحثهای مفصلی صورت گرفته است. فصل پنجم به روابط هند با روسیه بعد از ۱۱ سپتمبر بین سالهای ۲۰۰۱-۲۰۱٦ اختصاص یافته و در این فصل تأثیرات حضور نظامی امریکا در منطقه، روابط سیاسی، نظامی، اقتصادی و تجارتی هند با روسیه توام با جداول و نمودارها معلومات ارائیه گردیده است. در فصل ششم تأثیرات روابط هند با امریکا و روسیه بالای افغانستان که آخرین فصل این اثر می باشد، مورد تحلیل و بررسی قرار گرفته است. در اخیر از محتوای اثر نتیجه گیری صورت گرفته و پیشنهادات در خور توجه ارائیه گردیده است.

محقق در تألیف این اثر از منابع و سایت های انترنیتی معتبر استفاده نموده، اصول و روش های تحقیقات علمی معیاری و پذیرفته شده در اکادمی علوم را رعایت نموده است. من این اثر را مثبت ارزیابی نموده و برای ترفیع از رتبه علمی محقق به رتبه علمی معاون سرمحقق در صورتیکه سایر شرایط ترفیع علمی را تکمیل نموده باشد، کافی و بسنده دانسته چاپ آن را برای محصلان رشته روابط بین الملل مفید و ارزنده می دانم. موفقیت های مزید را در پیشبرد امور علمی برای محقق محترم از درگاه خداوند متعال تمنا می نمایم.

و من الله التوفیق

سرمحقق محمد موسی رحیمی

# تاییدي تقریظ

د افغانستان د علومو اکاډمۍ ریاست درانه مقام ته!

السلام علیکم ورحمته الله و برکاته!

قدرمنه!

د علومو اکاډمۍ د بشري علومو د سیمه ییزو مطالعاتو د مرکز د هند او پاکستان انستیتوت د علمي کادر غړي شاغلي څېړندوی ضیاالحق ضیا د څېړنوال علمي رتبې لپاره علمي او څېړنیز اثر مې چې (له امریکا او روسیې سره د هند اړیکې او پر افغانستان یې اغېزې ۱۹۹۱ـ۲۰۱٦) تر سرلیک لاندې په غور او دقت ولوست. د نوموړي اثر په اړه خپل نظر په لاندې ډول څرګندوم.

۱. اثر په شپږو څپرکیو وېشل شوی، هر څپرکی یې بیا په بېلابېلو سرلیکونو کې په پوره غور سره څېړل شوی دی.

۲. د اثر په لومړۍ برخه کې لنډیز، سریزه، موخې، اهمیت، سوالونه، فرضیې، تېرو لیکنو ته کتنه او پر کړنلارو باندې بحث شوی دی.

۳. د اثر په دویمه برخه کې له سړې جګړې وروسته د هند او امریکا اړیکې (۱۹۹۱ـ۲۰۰۱) تفیصلي بحث شوې دي.

۴. د اثر په درېیمه برخه کې له سړې جګړې وروسته د هند او روسیې اړیکې (۱۹۹۱ـ۲۰۰۱) په هر اړخیز تفصیلي ډول سره څېړل شوې دي.

۵. د اثر په څلورمه برخه کې د سپټمبر یوولسمې پېښې وروسته د هند او امریکا اړیکې (۲۰۰۱ـ ۲۰۱٦) په ډېر ښه ډول څېړل شوې او مفصل بحث پرې شوی دی.

٦. د اثر په پنځمه برخه کې د سپټمبر د یوولسمې له پېښې وروسته د هند او روسیې پر اړیکو (۲۰۰۱ـ ۲۰۱٦) په ډېر تفصیلي ډول سره بحث شوی دی.

۷. د اثر په شپږمه برخه کې له امریکا او روسیې سره د هند اړیکې او پر افغانستان یې اغېزې په اساسي ډول سره څېړل شوې دي.

۸. په دغه څېړنیز اثر کې په سیمه کې د امریکا د شتون اغېزې او پر وړاندې یې غبرګونونه په ډاګه شوي دي.

۹. د نوموړې څېړنيزې موضوع پر ستراتيژيک اهميت هم بحث شوی دی، چې د هېواد دننه او بهر د اکاډميکو او څېړنيزو ادارو او مرکزونو، حقوقو، سياسي علومو، ديپلوماتيکو بنسټونو، د بهرني سياست جوړونکو او پلي کوونکو او علاقمندانو توجه يې ځانته راوړلې ده، په مفصل ډول سره د معتبرو اسنادو او د معلوماتو په اتکا رڼا اچول شوې، چې د هر لوستونکي قناعت حاصلولی شي.

۱۰. په اثر کې له گرافونو او جدولونو څخه د ضرورت مطابق استفاده شوې، د ليکنې رواني ژبې او د څېړنيزو اصولو په پام کې نيولو دغه څېړنه لا ارزښتمنه کړې ده. له معتبرو او کره سرچينو، اسنادو او معلوماتو پکې استفاده شوې ده.

که ښاغلي څېړندوی ضياالحق ضيا د څېړنوال علمي رتبې ته د ترفيع نور شرايط بشپړ کړي وي، دغه څېړنيز اثر د څېړنوالی علمي رتبې ته د ترفيع په غرض کافي گڼم او تاييدوم يې. په راتلونکي کې ورته له الله تعالی جل جلاله څخه د لا زياتو برياوو هيله کوم.

درنښت

پوهاند نقيب الله ثاقب

د ننگرهار پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي استاد

# تقریظ

د افغانستان د علومو اکاډمي د دفتر رياست د ۱۳۹۹هـ. ل کال د وږي مياشتې د ۳۰ نېټې د ۴۹۴ گڼې مکتوب پـه اړه د ټـولنيزو علومـو د مرکـز د ۱۳۹۹هــ.ل کـال د تلې مياشتې د ۲ نېټې د ٦١٦ شمېرې مکتوب پـر اسـاس (لـه امريکـا او روسـيې سره د هند اړيکې او پر افغانسـتان يـې اغېـزې ۱۹۹۱ــ۲۰۱٦) ترسرليـک لانـدې د څېړنـدوی ضياالحق ضيا علمي ـ څېړنيز اثر چې ماته د تقريظ لپاره سپارل شوی و، مطالعه کړ.

د افغانستان پر حالاتو باندې د بهرني لامل اغېز او رول داسې يوه موضوع ده چـې څېړل يې نه يوازې له نظري بلکه له علمي لحاظه هم مبرميت او اهميت لري. د امريکـا متحـده ايـالات او هنـد دوه داسـې هېوادونـه دي چـې لـه افغانسـتان سره سـتراتيژيکې اړيکې لري او بهرنيو تگلارو يې د تېرو څلورو لسيزو په اوږدو کې د افغانستان پـه اړونـده مسلو او پرمختياو باندې اغېز ښندلی دی. له دې امله د يادو هېوادونو د اړيکو څېـړل او پـر افغانسـتان يـې اغېـزې لـه مهمـو موضـوعگانو څخـه گڼـل کېـږي او د افغانسـتان د حکومت د يوه مهم ارگان په توگـه د افغانسـتان د علومـو اکـاډمي لـه مهمـو لومړيتوبونـو څخه گڼل کېږي.

دا اثـر چـې پـه سريـزې سره پيلېـږي، شـپږ فصـلونه لـري او لـه نتيجـه گيـري او وړانديزونو وروسته پـه اخځليـک سره پـای تـه رسـېږي. پـه دې علمـي ـ څېړنيـز اثـر کـې څېړونکي د بېلابېلو سرليکونـو پـه تـرڅ کـې د موضـوع مختلـف اړخونـه څېـړلي دي. پـه سريزه کې د موضوع له بيان، اساسي پوښتنې، فرعي پوښتنو او فرضيو له وړانـدې کولـو وروسته د اثر د متن جوړښت معرفي شوی دی. په لومړي فصل کې د موضوع مخينـې او تاريخي شاليد ته لنډه کتنه شوې او وروسته يوه شمېر مهم آثـار چـې شـمېر يـې ۲۸ تـه رسېږي معرفي شوي دي.

د اثر په دوهم او دريېم فصلونو کې په ترتيب سره د ۱۹۹۱-۲۰۱٦ کلونـو پـه اوږدو کـې لـومړی د امريکـا متحـده ايـالاتو او بيـا د فـدراتيفې روسـيې سره د هنـد سـياسي، نظامي، اقتصادي او سوداگريزې اړيکې څېړل شوې دي. په دې برخه کې د دريو مهمـو موضوعگانو يعنې د سرې جگړې پای ته رسېدل او د يادو هېوادونو لپاره د هغو پايلې، د

پخواني شوروي اتحاد لـه ړنګېـدو وروسـته د روسـيې پـه بهرنـۍ تګـلاره کـې بـدلون او د امريکا متحده ايالاتو سره د هند نږدې کېدل او د اړيکو پراختيا ده چـې پـه تفصـيل سره بحث پرې شوی دی.

همدرانګه په څلورم او پنځم فصلونو کې د ۲۰۰۱کال د سپټمبر له ۱۱ وروسته تـر ۲۰۱۶کال پورې لومړی د امريکا متحده ايـالاتو او بيـا د فـدراتيفې روسـيې سره د هنـد سياسي، نظامي، اقتصادي او سوداګريزې اړيکـې څېـړل شـوې دي. پـه دې برخـه کـې مهمه موضوع چې نه يوازې يې د يادو هېوادونو اړيکې، بلکې په ټولـه کـې بـين المللـي اړيکې اغېزمنې کړې دي، د سپټمبر يوولسـمه پېښـه ده چـې څېړونکـي پـه هـر اړخيـزه توګه څېړلې ده. د دې فصلونو بله مهمه موضوع پـه افغانسـتان کـې د امريکـا د متحـده ايالاتو او ناټو سازمان نظامي حضور، لـه افغانسـتان سره د هغـوی د اړيکـو څرنګـوالی او اتومې وسله ده چې په هر اړخيزه توګه تحليل او ارزول شوې ده.

شپږم فصل چې د اثر وروستی فصل دی پر افغانسـتان بانـدې د امريکـا د متحـده ايالاتو سره د هند او روسيې د اړيکو اغېزو ته بېل شوی دی چې لومړی په سـيمه کـې د امريکا د متحده ايالاتو او ناټو سازمان شتون، د هغو اغېزې او په وړانـدې يـې غبرګونونـه او بالاخره پر افغانستان باندې له هند سره د يـادو هېوادونـو د اړيکـو د اغېـزو څرنګـوالی څېړل شوی دی او اثر په نتيجې او وړانديزونو سره پای ته رسېږي.

څېړونکـي د اثـر پـه ليکلـو کـې لـه مختلفـو معلومـاتي او علمـي، کورنيـو او بهرنيـو سرچينو او آثارو څخه ګټه اخيستې او دا کـار يـې د علمـي معيـارونو او د څېړنـې د منـل شوو اصولو سره سم ترسره کړی دی. يادو مطالبو ته په پام سره، د اثـر د نـورو شرايطـو د بشپړېدو په صورت کې، زه د ښاغلي څېړندوی ضـياالحق ضـيا دا علمـي ـ څېړنيـز اثـر د څېړنوالۍ علمي رتبې ته د ترفيع لپاره کـافي بـولم او نومـوړي تـه پـه راتلـونکي کـې د لا زياتو برياليتوبونو هيله کومه.

څېړنوال بخت محمد بختيار

# سریزه

هند له خپلواکۍ وروسته د سړې جګړې تر پای ته رسېدو پورې، د نړیوال امنیت په برخه کې د امریکا لپاره یو مهم فکتور نه و، د امریکا ضد دریځ یې درلود او په ګڼو برخو کې یې پالیسۍ له یو او بل سره په ټکر کې وې. په ځانګړې توګه د پاکستان په اړه امریکایي پالیسیو د هند امنیت او خونديتوب تر ګواښ لاندې راوستلی و او په ورته توګه له شوروي اتحاد سره د هند نږدې اړیکو په سیمه کې د امریکا ګټې ننګولې چې له امله یې د هند او امریکا اړیکې له لوړو او ژورو سره مخامخ کړې وې. دا په داسې حال کې وو چې د سړې جګړې په لومړیو کې هند د ناپېیلتوب غورځنګ په چوکاټ کې د یوه داسې نوي نړیوال نظم هڅې کولې چې د ختیځ او لوېدیځ بلاک اړوند نه وي، خو له چین سره د ۱۹۶۲ز.کال د جګړې پر مهال د هند لپاره د ناپیلیتوب پالیسي بې ګټې ښکاره شوه او اړ شو چې د سړې جګړې له دوارو غاړو د پوځي مرستو غوښتنه وکړي چې په پایله کې یې د لوېدیځ بلاک په پرتله له شوروي اتحاد سره نږدې ستراتیژیکې اړیکې جوړې کړې. همدا و چې د سړې جګړې پرمهال له یوې خوا د هند او شوروي اتحاد نږدېوالي او له بل لوري د امریکا په پالیسیو کې پاکستان ته ډېره پاملرنه، هغه څه وو چې د هند او امریکا ترمنځ یې په اړیکو کې لرې والي او ناهیلۍ رامنځته کړې وې.

له سړې جګړې وروسته، د شلمې پېړۍ وروستۍ لسیزه په نړیوالو چارو کې د سترو بدلونونو شاهده وه. د شوروي اتحاد او سوسیالیستي بلاک په له منځه تللو سره نړۍ د امریکا متحده ایالاتو په مشرۍ د یو قطبي نړیوال نظم پر لوري روانه شوه. دې ډول بدلېدونکو حالاتو امریکا دې ته اړ کړه چې د چین د ډېرېدونکي ځواک مخه ونیسي او پر وړاندې یې هند د یو ستراتیژیک انډول(بیلانس) په توګه راپورته کړي. په دغه ډول حالاتو کې دا حیرانونکې نه وه چې امریکا خپل امنیتي دکتورین او نړیوال رول بدل او د ګډو ګټو په ګڼو ساحو کې له هند سره ستراتیژیکه ملګرتیا جوړه کړي. امریکا په لوړه کچه د هغو اقتصادي اصلاحاتو ملاتړ وکړ چې هند له سړې جګړې وروسته د نوییمې لسیزې په لومړیو کې اعلان کړي وو. دا اصلاحات د دې لامل شول چې د هند او امریکا ترمنځ اقتصادي اړیکې په چټکۍ پراخې شي، خو کله چې د

۱۹۹۸ز.کال د مې په ۱۱ او ۱۳ نېټه هند پنځه هستوي آزمايښتونه ترسره کړل، نو د امريکا ولسمشر بيل کلنټن پر هند پراخ بنديزونه ولګول. د يادونې وړ ده چې د بنديزونو ترڅنګ يادو آزمايښتونو د وخت په تېرېدلو سره د دواړو لويو ډموکراسيو ترمنځ د نږدېوالي رول هم ترسره کړ. هستوي آزمايښتونو له هند سره مرسته وکړه چې په پوره ځواکمنتيا سره د خپلو امنيتي ګواښونو پر وړاندې ودرېږي چې له امله يې په امريکا کې ډېرى قانون جوړونکو، ستراتيژي پوهانو او فکري مرکزونو د سويلي آسيا او په ځانګړې توګه د هند پر وړاندې د واشنګټن د پاليسيو د بدلون اړتيا احساس کړه؛ همدا وه چې د پاليسيو په بدلون سره د هستوي ازمايښتونو له امله لګېدلي بنديزونه هم نرم شول، اړيکو نوي اړخونه خپل کړل او د ۲۰۰۱ز.کال په ډسمبر کې د هند پر پارلمان له بريدونو داسې ښکاره شوه چې دواړه له ورته امنيتي ګواښونو سره مخامخ دي.

د ۲۰۰۱ز.کال د سپټمبر له يوولسمې پېښې وروسته هند او امريکا په بېلابېلو برخو کې همکارۍ پيل کړې. د امريکا ولسمشر جورج. ډبليو بوش، هند د امريکا طبيعي ملګرى وباله، له دغه هېواد سره يې د دفاعي، امنيتي، اقتصادي، سياسي او ټېکنالوژيکي همکاريو د ډېروالي لپاره اسانتياوې برابرې کړې او د دفاعي همکاريو اوسوداګرۍ پر وړاندې يې پراته خنډونه لرې کړل. په ورته ډول هند هم په بېلابېلو برخو کې له امريکا ملاتړ وکړ؛ همدا وه چې په دوه اړخيزو اړيکو کې له ګڼو پرمختګونو سره د دواړو هېوادونو ترمنځ په اقتصادي، ستراتيژيکو او ډيپلوماتيکو برخو کې بې سارې همکارۍ پيل شوې. له جورج ډبيلو بوش وروسته، د امريکا متحده ايالاتو ولسمشر بارک اوباما هم هڅه وکړه چې له هند سره اړيکې پراخې کړي. په هر حال د اوباما د واکمنۍ پر مهال په واشنګټن او نوي ډيلي کې داسې شکايتونه وو چې د اوباما حکومت له چين سره د سيمه ييزو او نړيوالو ننګونو د حل په اړه همکارۍ کوي، خو د هند د پياوړتيا لپاره ډېر څه نه کوي. دا يوازې واک ته د نريندرا مودي په رسېدلو سره وو چې له امريکا سره يې د هند اړيکې يو ځل بيا په خوځښت راوستې او کله چې په ۲۰۱٦ز.کال کې د يوې ګډې اعلاميې له لارې دواړه هېوادونه په يوويشتمه پېړۍ کې د تلپاتې نړيوالو شريکانو په نوم ياد شول، نو دوه اړخيزې اړيکې هم د نويو اړخونو په خپلولو سره په داسې توګه پراخې شوې چې ګڼې برخې يې په ځان کې رانغاړلې.

سره له دې چې له سرې جګړې وروسته د هند او روسیې اړیکې د پخوا پـه پرتلـه د سړېدو په حال کې وې، د شوروي اتحاد له پرځېدو وروسته، مـوږ د روسـیې د اقتصـادي شاتګ، د بازار اقتصاد ته د ستونزمن بدلون، د نبې ډموکراسۍ او د بازار د غوره سیستم لپاره د بنسټیزو جوړښتونو د نه شتون، له امریکا، چین او اروپایي ټولنې سره یې د اړیکو د نږدېوالي او داسې نورو ګڼو بدلونونو لیدونکي وو. نوې روسیې، لـه نـورو هېوادونـو سره په بهرنیو اړیکو کې نوې لارې پیدا کړې، په دې ترڅ کې سیاسي او اقتصادي ستونزو له هند سره اړیکو ته د پراختیا اجازه ور نـه کـړه، خـو کلـه چـې پـه ۲۰۰۰ز.کـال ولادیمیـر پوتین واک ته ورسېد، له نوي ډیلي سره د مسکو اړیکې بیرته په رغېدو شوې.کله چـې د ۲۰۰۰ز.کال په اکتوبر کې د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین هند ته ولاړ له دغه هېواد سره یې د ستراتیژیکې ملګرتیا په اړه اعلامیه لاسلیک او د هند او روسـیې د دوه اړخیـزو اړیکو لپاره یې یوه پراخه نقشه پر لاره واچوله. په همدې ترڅ کـې لـه ٦۰ ډېـرې هـوکړې لاسلیک او دواړه هېوادونه له مهمو دفاعي او استخباراتي همکاریو او ډیپلوماتیکو اړیکـو سره ستراتیژیک ملګري شول. دغو اړیکو د ۲۰۱۰ز.کـال پـه ډسـمبر کـې ځـانګړې بڼـه خپله کړه او امتیازي ستراتیژیک مشارکت[۱] ته لوړې شـوې او د ۲۰۱٦ز.کـال پـه اکتـوبر میاشت کې په هغې کلنۍ دوه اړخیزې ناستې کې چې د هند د ګوا په ښـار کـې جـوړه شوې وه، یوه نوې ساه ورکړل شوه.

**د مسـئلې بیـان:** لـه ۱۹۹۱ز.کـال وروسـته د افغانسـتان پـه وچـه کـې را ایسـار جغرافیوي موقعیت، سیاسي بدلونونو، کورنیو او بهرنیو سیاستونو دا هېواد د بین المللـي اړیکو او نړیوالو سیاستونو او سیالیو پر وړاندې ډېر اغېزمن ثابت کړ. په ځانګړې توګـه دا اغېزمنتیا چې له ۱۹۷۹ز.کال پیل شوې وه، له ۱۹۹۱ز.کال څخه وروسته د پیـاوړي او باثباته سـیاسي نظـام د نـه شـتون لـه املـه خـورا ډېـره شـوه. لـه سـړې جګـړې وروسـته افغانستان د ایران، پاکستان، مرکـزي آسـیا، چـین، هنـد، روسـیې، امریکـا او د منځنـي ختیځ د هېوادونو له سیاستونو او اړیکو څخه په مستقیمه توګه اغېزمن شو. دا په داسـې حال کې و چې له سړې جګړې وروسته د سـیمې د هېوادونـو او نړیوالـو سـترو ځواکونـو

[۱] - Privileged Strategic Partnership

ترمنځ په بین المللي اړیکو کې بدلونونه او پرمختګونه تر سترګو کېدل. دغه مهال د روسیې او هند اړیکې بې خونده وې، خو د افغانستان په اړه یې دریځونه سره ورته وو، له بلې خوا د تېر خلاف د هند او امریکا اړیکې پراخې شوې وې، خو د افغانستان په اړه یې دریځونو له یو او بل سره توپیر درلود. د اړیکو دې ډول بدلونونو او په سیمه کې د هند پیاوړي او پراخېدونکي شتون او پر افغانستان د دې شتون او اړیکو د اغېزو د څېړلو لپاره و چې د رسالې دا موضوع د افغانستان د علومو اکاډمۍ د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز له پلان سره سم، د افغانستان د بین المللي اړیکو او بهرنیو سیاستونو د غوره پرېکړې نیولو په برخه کې د همکارۍ په نیت او د اکاډمیکو ادارو او څېړونکو د ګټې اخیستنې لپاره د یوې علمي او څېړنیزې رسالې په توګه غوره شوه.

**د څېړنې اصلي پوښتنه:** له ۱۹۹۱ـ ۲۰۱٦ز.کال پورې له امریکا او روسیې سره د هند اړیکو پر افغانستان څه ډول اغېزې لرلې؟

**د څېړنې فرعي پوښتنې:**

۱ـ له سړې جګړې وروسته د هند او امریکا په اړیکو کې د بدلونونو لاملونه څه وو؟ د هند او امریکا اړیکې د سپټمبر یوولسمې پېښې وروسته ولې پراخې شوې؟ ولې هند په خپلې هستوي پالیسۍ کې امریکا ته لومړیتوب ورکړ؟ ایا په راتلونکي کې دواړه هېوادونه د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره یو او بل ته ګټور تمامېدلی شي؟

۲ـ له سړې جګړې وروسته د هند او روسیې اړیکې کوم لوري ته ولاړې او لاملونه یې څه وو؟ په ۲۰۰۰ز.کال کې واک ته د پوتین په رسېدلو سره په دې اړیکو کې څه ډول بدلونونه راغلل او اغېزې یې څه وې؟ د سپټمبر یوولسمې پېښې وروسته، په نوي سټراټیژیک چوکاټ کې د هند او امریکا یوځای راپورته کېدلو او له پاکستان او چین سره د روسیې نږدې والي د هند او روسیې پر اړیکو څه ډول اغېزې لرلې؟

**فرضیې**: ۱ـ ویلای شو چې له امریکا او روسیې سره د هند اړیکو په بېلابېلو دورو کې د افغانستان پر حالاتو بېلابېلې اغېزې لرلې دي. د سړې جګړې پر مهال د نوي ډیلي او مسکو اړیکو پر کابل پراخې اغېزې لرلې او د شلمې پېړۍ په نوییمه لسیزه کې هم د دواړو هېوادونو ګډو دریځونو دا اغېزې د افغانستان د حالاتو په اړه لا ډېرې کړې وې. همدارنګه داسې فرض کولای شو چې د سپټمبر له یوولسمې پېښې مخکې د هند

او امریکا اړیکو د افغانستان پر حالاتو د پام وړ اغېزې نه لرلې، خو له یادې پېښې وروسته د دواړو هېوادونو ترمنځ نږدې اړیکو پر افغانستان د پام وړ اغېزې لرلې دي.

۲ـ ویلای شو چې له سړې جګړې وروسته د هند او امریکا په اړیکو کې د بدلونونو اصلي لاملونه د شوروي اتحاد له منځه تلل، پر کمزورې روسیې د هند د سیاسي او پوځي تکیې پای ته رسېدل او په بېلابېلو لارو د خپلو ګټو او لېوالتیاو تعقیبول وو. داسې هم فرض کولای شو چې د سپټمبر له یوولسمې پېښې وروسته د چین د را ایسارولو، د پاکستان د ګوښه کولو او د سمندري لارو د ساتلو په برخه کې ګډو دریځونو د هند او امریکا ترمنځ اړیکې پراخې کړې. همدارنګه ویلای شو چې هند پخپله هستوي پالیسۍ کې د دې لپاره امریکا ته لومړیتوب ورکړ چې د هستوي سون توکو د لاسته راوړلو په موخه یې د امریکا زرغون چراغ ته اړتیا لرله. داسې باور کېدلای شي چې په راتلونکي کې به د خپلو ګټو د تعقیب لپاره دواړه هېوادونه د یو او بل ملاتړي جوړ شي.

۳ـ داسې فرض کولای شو چې له سړې جګړې وروسته د هند او روسیې د اړیکو کچه راکمه شوه او ترمنځ یې خفګانونه رامنځته شول؛ د اړیکو د کموالي اساسي لاملونه لوېدیځو هېوادونو ته د نوي ډیلي او مسکو ور نږدې کېدل، د اقتصادي اصلاحاتو اعلانول، د روسیې کمزوري کېدل او له نورو هېوادونو سره د هند د اړیکو پراختیا وه، خو ویلای شو چې واک ته د ولادیمیر پوتین په رسېدو سره د دوی اړیکې پراخې شوې او هر اړخیزې اغېزې یې لرلې. له بله اړخه، داسې معلومېږي چې که هند او روسیه خپلې اړیکې د میدان حقیقتونو ته په کتو سره برابرې نه کړي، د هند او امریکا د ستراتېژیک چوکاټ اغېزې به د دوی پر اړیکو پراخې شي. همدارنګه که هند د روسیې غوښتنې پوره نه کړي، روسیه به نورو هېوادونو ته مخه کړي چې له امله به یې د دوی باوري ملګرتیا له ستونزو سره مخامخ شي. له بلې خوا که نوی ډیلي او مسکو خپلې اړیکې او لیدلوري دوه اړخیزو ګټو ته په کتو سره غوره کړي، نو دواړه به له یو او بل سره رښتیني بین المللي ملګري پاتې شي.

**د اثر لنډه پېژندنه:** دا رساله شپږ څپرکي لري چې هر څپرکی یې په بېلابېلو وختونو کې له امریکا او روسیې سره د هند د اړیکو پر ګڼو مسایلو بحثونه کوي. د علومو اکاډمۍ د څېړنیزو اصولو سره سم د شالید تر عنوان لاندې د دې رسالې په لومړي

ځپرکي کې له ۱۹۹۱ز.کال څخه مخکې له امریکا او روسیې سره د هند پر اړیکو لنډ بحث شوی او د دغه ځپرکي په دوهمه برخه کې د ځینو هغو مأخذونو پېژندنه راوړل شوې چې د دې رسالې په لیکلو کې د سرچینې په توګه ترې ګټه اخیستل شوې ده.

په دوهم ځپرکي کې له ۱۹۹۱ز.کال څخه تر ۲۰۰۱ز.کال پورې د هند او امریکا پر اړیکو او په دریېم ځپرکي کې د همدې کلونو په دوران کې د هند او روسیې پر اړیکو بحثونه او شننې شوې دي. څلورم ځپرکی له ۲۰۰۱ز.کال نه تر ۲۰۱٦ز.کال پورې د هند او امریکا او پنځم ځپرکی هم په همدې دوره کې د هند او روسیې له اړیکو بحث او شننې وړاندې کوي. په وروستي او شپږم ځپرکي کې پر افغانستان له روسیې او امریکا سره د هند د اړیکو اغېزې څېړل شوې دي او دا رساله د پایلې، وړاندیزونو او مأخذونو په راوړلو سره پای ته رسېږي.

زه د دې رسالې په لیکلو کې د هغو بین المللي څېړنیزو مرکزونو له څېړونکو او د یادو مرکزونو له ادارو د زړه له تله مننه کوم چې څېړنې، مقالې او کتابونه یې تر ما رارسېدلي او د دې رسالې په بشپړولو کې مې ترې د سرچینو په توګه ګټه اخیستې ده. د افغانستان د علومو اکاډمۍ له ادارې مننه کوم چې د دې رسالې د لیکلو او بشپړولو لپاره یې آسانتیاوې او زمینې راته برابرې کړې وې. د سیمه ییز مطالعاتو مرکز له درنو همکارانو او په خپل وار د دې رسالې په ټاکلو او د تصویب د پړاوونو په ترسره کولو کې د ټولنیزو علومو د مرکز د حقوقو او سیاسي علومو د انسټیټوټ له ادارې او درنو استادانو نړۍ مننه کوم. د ننګرهار پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي له ادارې او له خپل لارښود استاد محترم پوهنوال منګل شیرزاد څخه نړۍ مننه کوم چې د دې رسالې د لیکلو پر مهال یې تل زما روحیه لوړه کړې او هڅولی یې یم.

خدای ج دې وکړي چې دا علمي ـ څېړنیز اثر په هېواد کې دننه او بهر د پوهنتونونو، څېړنیزو مرکزونو، د هېواد د ډیپلوماتیکو او د بهرني سیاست د پرېکړه نیوونکو بنسټونو لپاره اغېزمن او د ګټې وړ وګرځي.